مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۵/۱۶

نوی نظم

د نن خبرې

ځنګه شو کوم کارت د کوم خیرات دې په لاس درغی!؟
حق ووایه څو روپۍ ذکات دې په لاس درغی !؟

ځنګه شو بهر نه کوم ایمېل درته راغلی دی!؟
څوک دې واسطه دی او هغه څومره ښاغلی دی!؟

ځنګه شو آنلاین اپلای دې کړې پاسپورټونو ته!؟
نوم به دې لیکلی وي وېزې ته نوبتونو ته!؟

څه شو هغه زوی چې و غربیانو ته پیاده روان!؟
هاغو د بحرونو نهنګانو ته پیاده روان

هغه یتیم مړ دی که ژوندی دی چې نهر به و!؟
زړه یې د کباب په خواره بوی پسې بهر به و!؟

ځنګه شو پښې لوڅې ها پلۍ یې چې چاودلې وې!؟
څوک پرې مهربانه شو څپلۍ یې چې شلېدلې وې!؟

ښه شو ملک آزاد شو؛ چې ایمان کې کوم تغیر راغی!؟
لمونځ، روژه؛ پنځه وخته اذان کې کوم تغیر راغی!؟

خلک پخوا غله و اوس خو ټول ولس سوالګر شولو
څومره فرق یې وکړلو؟ ایمان کې کوم تغیر راغی!؟

خوږ وطن باوره! د بلا د ګټو جنګ وخوړ
نیم یې د دنیا نیم د عقبا د ګټو جنګ وخوړ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ